


د ژوند ښکلا په احتیاط کې ده.

# د ترافیکي اصولو او مقرراتو د زده کړې درسونه

Ketabton.com




راټولوونکئ او لیکونکئ: سیف الله (بسمل)

کال ........................ ۱۳۹۹



(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

## مقدمه

ژوند د خدای ج ستر نعمت دی، ددغه ستر نعمت ساتنه یو مسوولیت دی او مسوولین یې موږ یو. موږ ته خدای ج عقل او شعور راکړی، په دې نړۍ کې یې د اشرف المخلوقاتو په نوم نومولي یو. د عقل او شعور په واسطه یې دا توان راکړی چې د ښه او بد ترمینځ تفکیک وکړو. کله چې د ښه او بد تر مینځ تفکیک وکړای سو، ښو ته دوام ورکوو او د بدو څخه ځان ساتو. ژوند د خپل بهبود لپاره د تکامل زیات پړاوونه طی کړ، نن تر هر وخت عقل انشکاف پیداکړی د ژوند د هوساینې لپاره یې بېلابیلې وسیلې کشف کړې د همدا وسیلو له جملې څخه یې کښتۍ، طیاره او موټر هم په وجود راوړي. دغه وسیلو ته درې ډوله ترافیک هم ویلی سو بحري ترافیک، هوایي ترافیک او ځمکني ترافیک. بحري او هوایي ترافیک پر خپل ځای زموږ کار د ځمکني ترافیکو سره دی. د ځمکني ترافیکو سره یوځای ترافیکي اوصول او مقررات هم ایجاد سوي.کله چې د آس... بایسکل، موټرسایکل، موټر او ټکټر څخه استفاده کوو. لازمه ده چې په ترافیکي اوصولو او مقرراتو به پوه یو. که په ترافیکي اصولو عمل وکړو هم ځان او هم به مو نورو ته اضافه ژوند وربخښلی وي، که یې ونه کړو د ژوند په روانه لړۍ کې به مو د خطر فیصدي نوره هم زیاته کړې وي. خبره بیرته د عقل لور ته ځي عقل موږ ته د احتیاط سپارښتنه کوي، چې د وسایطو څخه په استفاده احتیاط وکړو هم به مو د ځان او به مو د نورو ژوند ژغورلی وي.

راځئ چې ترافیکي اصول مراعات کړو، هم د ځان او هم د نورو ژوند وژغورو!

**په درنښت**

**سیف الله بسمل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ترافیکو تاریخچه

لومړني انسانانو په سمڅو(مغارو) کي ژوند کوئ، ژوند یې په خورا ابتدایي مراحلو کي قرار درلود دوی خپل خوراکي توکي د ځنګلي نباتاتو څخه پوره کول، دژوند په دغه جریان کي په سمڅو کي د طوفانو، بادو، زلزلو او نورو طبیعي افتو په منځته راتلو سره ژوند ورته ګران سو، فکر یې وکړ چي دښتو، بدیاو، د غرو لمنو او سمندرونو پر غاړه کورونه ودان کړي، همداسې یې وکړل، ټولنیز ژوند یې پیل کړ د عقل په انکشاف سره یې زراعت ته مخه کړه، یوو شمیر حیوانات یې اهلي کړل، د خپلو اموالو د انتقال د یوه ځایه څخه تر بل ځایه پوري د تګ لپاره د همدغه حیواناتو څخه استفاده وکړه، همدغه وخت لومړني ترافیک په وجود راغلل.

په اروپا کي تر صنعتي انقلاب وروسته په (18مه) پیړۍ کي لومړنی موټر په وجود راغلی، همدا لړۍ انکشاف پیدا کړ، لومړنیو موټرانو په ښارو کي په غیري منظم ډول حرکتونه کول چي بیا یو شمیر ټکرونه په وجود راغلل، د هغه وخت د ضرورت سره سم د ښاري نظم د تنظیم لپاره پولیس ټرافیک په وجود راغلل.

د ترافیک Traffic کلیمه د لومړي ځل لپاره په روم او انګلیستان کي وکارول سوه. ترافیک هم د لومړي ځل لپاره په همدغه هیوادو کي رامینځ ته سول. په ۱۹۶۸ م کال د اتریش هیواد په مرکز ویانا کي ۱۱۰ هیوادونو غونډه وکړه، په نړیواله سطحه یې ترافیکي قوانین وضع کړه.

په افغانستان کي عیناً لکه په نوره نړۍ کي چي مخکي موټر نه وو د تګ او راتګ او اموالو د انتقال لپاره د آس، اوښ، مرکب او فیلانو څخه د نقلیه وسایطو په توګه کار اخیستل کیدی، نورې ټرانسپورټي او مواصلاتي لارې چارې نه وې موجود.

په لومړي ځل په (۱۹)پېړۍ کي د امر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال افغانستان ته دوه عرادې نقلیه وسایط ورکړل سول، ټرافیکي سیستم او اصولو په تدریجي ډول سره د پرمختګ په حال کي وو، د امر امان الله خان په وخت کي یې په بېساري ډول سره خپل د پرمختګ مراحل طی کړل په (۱۳۴۲) هـ ش کال کي د ترافیک پولیسو اداره چي په ښاروالۍ پوري مربوط وه، ورڅخه جلا او په کورنیو چارو وزارت پوري مربوط سول، د ولایاتو د امنیه قوماندانۍ تر چتر لاندي یې فعالیتونه مخته وړل شروع کړل چي تر دامهاله جریان لري.




### ترافیک Traffic

**ترافیک Traffic یو لاتیني کلیمه ده چي د تګ او راتګ په معنی ده.**




**په اصطلاح کي هر هغه شی چي پر جاده باندي حرکت کوي ترافیک بلل کیږي.**

**تعریف:هر هغه شی چي د یوه ځایه څخه بل ځای ته حرکت کوي هغه ته ترافیک ویل کیږي.**

**په ټوله نړۍ کي ټرافیک پر درې ډوله دي.**



**۱ : هوایي ترافیک: هوایي ترافیک هغه دی چي په هوا کي حرکت کوي: لکه طیارې**

**۲: بحري ترافیک: بحري ترافیک هغه دي چي په اوبو کي حرکت کوي: لکه کښتۍ**

**۳: زمیني ترافیک: زمیني ترافیک هغه دي چي ځمکي پر سر حرکت کوي: موټر، ریل ګاډی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





عموماً زمیني ترافیک په دوه ډوله دي.

۱: د جادې ترافیک ۲: د پټلۍ ترافیک

زموږ سر و کار د جادې د ترافیکو سره دی. چي دا بیا پر درې ډوله دي.

۱: د ماشین په واسطه ۲: د انسان یا حوان په واسطه ۳: پیاده شاملین

*د ترافیکو په قانون کي حق اولیت پیاده شاملینو ته ورکول سوی دی

**پولیس ترافیک** هغه کسان چي مشخص لباس یې اغوستی وي، د ترافیکو نظم برابروي پولیس ترافیک بلل کیږي.



د پولیس ترافیک وظیفې: د ۱ترافیکو او جادې تنظیم۲ د ترافیکي پیښنو بر رسي۳ د نمبر پلېټ او جواز سیر توزیع۴ په ترافیکي اصولو د خلکو پوهول ۵ د چلولو د جواز(لایسنس) توزیع.

ترافیک د نظم له رویه پر ۴ ډوله دی.

۱: پولیس ترافیک ۲: برقي ایشارې یا سینگالونه ۳: ترافیکي نښې یا لوحې ۴: د حق اولیت قاعده.












په دغه ۴ قسمونو کي لومړی د اعتبار وړ پولیس ترافیک گڼل کیږي ځکه پولیس ترافیک د درک قوه لري.



**پر جاده باندي د تگ اوصول**

هر نقلیه واسطه چلوونکۍ باید پر جاده باندي په داسې شکل حرکت وکړي چي و نورو یا ځان ته د خطر سبب نسي.



لومړی: هر چلوونکۍ باید موټر ته تر حرکت ورکولو مخکي خپل د موټر تیل، مبلایل، ټایرونه، بتۍ، ایشارې، د نمبر پلېټ بتۍ، او نور تخنیکي پرزه جات چک کړي تر څو پر لار د خنډ او خطر سره مخ نسي.

دوهم: هر چلوونکۍ باید په ترافیکي اصولو اگاه او د چلولو جواز(لایسنس ) او د موټر جواز سیر ولري.

دریم: هر چلوونکۍ باید د چلولو څخه مخکي امنیتي کمربند وتړي، ځکه د چلوونکي او موټر سرعت مساوي وي د کمر بند په تړلو سره د چلوونکي سرعت صفر کیږي.

څلورم: هر چلوونکۍ باید موټر ته تر حرکت ورکولو مخکي خپل د موټر شاوخوا او لاندي چک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم: هر چلوونکۍ باید پر جاده باندې په داسې شکل حرکت وکړي چې نورو ته د زیان، خطر او اذیت سبب نسي.

شپږم: هر چلوونکۍ باید موټر په داسې شکل وچلوي چې نوموړی پرې حاکم وي او په اضطراري حالت کې یې کنټرول کړای سي.

اووم: چلوونکۍ باید په موټر کې د نشه يي توکو د استعمال، ټلیفوني خبرو او زیات باندار کولو څخه ډډه وکړي.

اتم: چلوونکۍ باید د تیز رفتار، هارن وهل، د جادې پر منځ تلل، بېځایه توقف، بېځایه پارکینګ، پر جاده موټر راګرځولو څخه ډډه وکړي.

نهم: هر کله چې چلوونکۍ حرکت کوي لومړی دې ایشاره ایله کړي، په عقبي ښیښنو(هندارو) کې دې وګوري کله چې اطمناني سو حرکت دې وکړي..

لسم: هر هغه وسایط چې په ساعت کې 30 کیلومتر تیزوالی ونه لري د ټرافیکو په قانون کې عمومي جادې ته نسي داخلېدای. باید پر فرعي سړکانو باندې ولاړ سي او یا هم په کوڅو کې ولاړ سي. لکه آس ګاډی، بایسکل او لاسي کراچی.

یولسم: قانون وایي تاسې باید د بل وسایط څخه دومره فاصله ولرۍ که چیرې یو وسایط یو دم درېږي او یا خرابېږي تاسې باید په دغه جریان کې خپل وسایط کنټرول کړاۍ سۍ.

**سبقت (مخته کېدل)**

د یو نقلیه واسطې مخته کېدل د بلې نقلیه واسطې څخه عبارت د سبقت څخه دی.

**د منع سبقت ځایونه:** ډبل سبقت، پر مخ پورته، پر مخ کښته، پر ګولایي، پر تنګه جاده، په تونل کې، پر پیاده رو، پر کومه جاده چې د منع سبقت نښه(لوحه) وي او پر راسته لاس سبقت کول منع دی.

د سبقت کولو په حالت کې باید د دید (لیدلو) ساحه پراخه وي، نه نور ترافیک په خطر کې واچول سي او نه هم ځان. د سبقت په وخت کې مو د نقلیه واسطې سرعت ډېر کړۍ تر څو د بلې واسطې څخه په امنیت کې تیر سۍ.

د سبقت په وخت کې د ټکر احتمالات ډېر وي، د نړۍ 60 فیصده پېښې د سبقت په وخت کې رامینځته سوي.



**ترافیکي پېښې (حادثې)**

تعریف: هغه تصادم یا پېښه چې د ځان سره مالي او ځاني زیان ولري ترافیکي پېښه بلل کیږي.

ترافیکي پیښې پر درې ډوله دی۱ لویه ترافیکي پېښه۲متوسطه(میانه) ترافیکي پېښه۳کوچنۍ ترافیکي پېښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱- لویه ترافیکی پیبنه**

لويه ترافيکي پېښه( حادثه )هغه حالت دی چي دشخص په فوت، د غړي په دايمي معلوليت يا د سلو زرو افغانيو څخه په زيات مالي ضرر تمام سي. (د جزاکود۵۷۷ ماده)

**۲- متوسطه ترافیکی پیبنه**

متوسطه (ميانه) ترافيکي پېښه (حادثه) هغه حالت دی چي په شديد ضرب او جرح، غړي په ماتېدو يا له پنځوس زرو څخه زيات تر سلو زرو افغانيو پوري په مالي ضرر تمام سي. (د جزاکود۵۷۷ ماده)

**۳- کوچنۍ ترافیکی پیبنه**

کوچنۍ ترافيکي پېښه( حادثه) هغه حالت دی چي په سپک (خفيف) ضرب او جرح او يا تر پنځوس زرو افغانيو پوري په مالي ضرر تمام سي. (د جزاکود۵۷۷ ماده)

د ترافيکي پيښې اصول:

- د پېښي مرتکب شخص دي خپله نقليه واسطه د جادې راسته طرف ته ودروي.
- د پېښي مرتکب شخص دي د زخميانو سره همکاري وکړي، نژدې کلينيک او روغتون دي دي يې انتقال کړي.
- د پېښي مرتکب شخص دي د زخمي سوي کس سره اوليه کمک وکړي لکه د ويني د جريان بندېدل...

**د ترافيکي پېښو د بررسۍ ټيم او دندې يې**



د ترافيکي پېښو د بررسۍ امريت هغه غړي چي د ترافيکي پېښي بر رسي او د پېښي د ځای کورَکي کوي د بر رسۍ ټيم بلل کيږي.

د بر رسۍ د ټيم دندې په لاندي ډول دي

د پېښي جريان ليکل، اثباتيه مدارک راټولول، لکه عکسونه اخيستل، پوښتني کول، اقرار اخيستل، د زيان اندازه معلومول، شاهدان نيول، د ترافيکي پيښې معلومات ترتيب او دوسيه ورته جوړول.

## جرم او مجرم

هر هغه عمل چي د ترافيکو د قانون خلاف ترسره کيږي هغه ترافيکي جرم بلل کيږي.

مجرم: هغه شخص چي جرم يې رامينځته کړی وي مجريم بلل کيږي.

مجرم هيڅکله د پېښي د ځای څخه فرار نسي کولای که د پېښې د ځای څخه فرار وکړي جرم يې يو په دوه کيږي. خو په دوه حالت کي فرار کولای سي. لومړی: که چيري د زخمي يا مړي قريبانو ده ته ضرر رسوئ نوموړی به ځي نژې پوستې يا پوليسو ته ځان په واک کي ورکوي. دوهم : مجرم کس به زخمي کس روغتون ته انتقالوي خو بيرته به د پېښې ځای ته ځان رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خسارې جبران

د ملامت شخص له لوري مقابل شخص ته د مالي یا ځاني زیان جبران ورکول د خسارې جبران بلل کیږي.

د پېښې مرتکب شخص د قانون پر مجازاتو سربېره د خسارې په جبران مکلف دی.

که په پېښه کې مړی رامینځ ته سي د مړي د تدفین او تکفین مصارف د خسارې په جبران کي حساب کیږي. همداشان که په پېښه کي ټپ، مات او یا هم مالي زیان وي بیا هم مجرم د خسارې په جبران مکلف دی.

که چیري متضرر کس په ترافیکي پېښه کي ملامت تشخیص سي د هغه د ملامتیا په تناسب په تثبیت سوي جبران باندي مکلف دی.

## د سیر جواز (جواز سیر)


**تعریف:** جواز سیر هغه ارزښت لرونکۍ سند دی چي د ګمرک د محصول او تخنیکي معاینې څخه وروسته یو نقلیه وسایط ته ورکول کیږي. یا جوازسیر یو ډول کتابچه ده چي نقلیه واسطې ته په جاده باندي د تګ اجازه ورکوي.

**تخنیکي معاینه:** د موټر انجن، شاسي او نورو پرزو چک کولو ته تخنیکي معاینه ویل کیږي.

**تخنیکي ټیم:** د جواز سیر امریت هغه اشخاص چي د موټر تخنیکي معاینه کوي تخنیکي ټیم بلل کیږي.

په جوازسیر کی د عرادې مشصات لکه انجن نمبر، شاسي نمبر، د عرادې ماډل، رنګ، د عرادې نوعیت، د سوارلیو (سپاریانو) تعداد او د بار اندازه ښودل کیږي.





صفحه (۱)

| شهرت مالک واسطه نقلیه | | |
|---|---|---|
| اسم و تخلص | | فوتو |
| ولـــد | | |
| نمبرتذکره ومحل صدور | | |
| وظیفه و محل کار | | |
| سکونت اصلی | | |
| سکونت فعلی | | |
| محل قابل دریافت | | |
| نمبر تیلفون | | |

په جواز سیر کي د عرادې د مالک مشخصات لکه نوم، د پلار نوم، عکس، سکونت او مبایل نمبر لیکل کیږي.


د ترافیکو د قانون ۱۴مه ماده داسې حکم کوي:

(1) د ترافیکو اداره د ماشین لرونکي نقلیه واسطي د مالیې او محصول د ورکړي له ډاډ حاصلولو څخه وروسته د مربوطه اسنادو اود عرادې د تخنیکي لازمو تجهیزاتو د بشپړ والي او فعال والي په پام کښي نیولو سره نومورې واسطي ته د سیر جواز ورکوي.

د ترافیکو د قانون ٦١ مه ماده داسې حکم کوي: کوم شخص چي پر عمومي جاده بغیر دجواز سیر او نمبر پلېټ څخه موټر په حرکت راولي د درو زرو څخه تر شپږ زره افغانیو پوري په نغدي جریمه یا له ۳ څخه تر ٦ میاشتو پوري به بند محکومیږي.

د جزاکود ٥٦١ ماده حکم کوي: که کوم شخص د انجن یا شاسي نمبر تغیر کړي به قصیر حبس محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2022025 صفحه (۲)


| مشخصات واسطه نقلیه | |
|---|---|
| نمبر پلیت | |
| نوع واسطه وانشترنگ | |
| مودل | |
| رنگ | |
| نمبر انجن | |
| نوع انجن و تعداد سلندر | |
| نمبر شاسی | |
| وزن مجموعی مجاز | |
| وزن بالای اکسل | |
| تعداد راکبین | |

2022025 صفحه (۳)

| مشخصات واسطه نقلیه | |
|---|---|
| نمبر احصائیه و کارت | |
| نمبروتاریخ مکتوب | |
| نمبروتاریخ علم و خبر | |
| اندازه محصول ترافیکی | |
| نمبروتاریخ تعرفه بانک | |
| اطمینانیه مسئولیت | |

این جواز سیر برای مدت یکسال از تاریخ / / الی / / اعتبار دارد

مامور آمر جوازسیر مدیر ترافیک



صفحه (۴)

| تاریخ | تبدیل انجن شاسی بادی و تغیررنگ واسطه نقلیه | امضا هیئت |
|---|---|---|
| | | |
| تاریخ | تبدیل انجن شاسی بادی و تغیررنگ واسطه نقلیه | امضا هیئت |
| | | |

**هر جواز سیر څو تشي خانې لري، ترڅو د تغییراتو په وخت کې ډکې سي لکه د موټر د رنګ بدلول، باډۍ پوري بسته کول او ځیني نور انواع.**

**که څوک موټر اخلي یا رانیسی غوره ، دا ده، چې یوځل ئې اسناد دخپل اطمینام لپاره د ترافیکو په مدیریت کی چک کړي یا د جواز سیر په امریت کي وګوري چې څه تخلفات ونه لري.**

## ټکس لاین

**هغه کتابچه ده، چې د ټکسي موټرونو لپاره ورکول کیږي.**

**دوه ډوله وي: ۱- ښار ي ۲- اطرافي.**

**دې کتابچه کې لیکل سوي وي، چې دا موټر له دې ایستګاه څخه تر دې ایستګاه پورې حق لري سوارلۍ پورته کړي.**

## نمبر پلیټ

هر ماشین لرونکي نقلیه واسطې ته دوه نمبر پلېټه ورکول کیږي، چي یو یې مخ او بل یې شاته بسته کیږي.

نمبر پلیټونه په شخصي، دولتي او خارجي موسیساتو ویشل سوي دي.

شخصي نمبر پلېټ په ملکي افرادو پسي مربوط کیږي، دولتي نمبر پلیټ په اړوند ارګان پسي مربوط کیږي او د موسیساتو نمبر پلېټونه په موسیسو، انجیو ګانو او خارجي نماینده ګیو پسي مربوط کیږي.

نمبر پلېټ مختلف شکلونه لري ش شخصي، ټ ټکسي، ل لاری، ب ، بس او نور

د دولتي ملکي ادارو د نمبر پلیټ بطن تور او د اعدادو رنګ یې سپین دی، د وسلوال پوځ او نورو نظامي قطعاتو نمبر پلیټ سپین او د اعدادو رنګ یې سور دی.

د هر نمبر پلیټ څراغونه باید فعاله، پاک او د لوستلو وړ وي

د افغانستان په نمبر پلیټو کي (۰) عدد نسته ځکه د لیري څخه لوستل کیږي نه او د موټر هر نمبر پلیټ د ۱۱۱ څخه شروع تر ۹۹۹۹۹ پوري جریان لري کله چي یولک ته ورسیږي بیا (منفي -۲) ۱۱۱ شروع کیږي.

ترانزټي نمبر پلیټ: کله چي افغانستان ته نوی موټر راواردیږي پر سرحداتو ورته ترانزټي نمبر پلیټ ورکول کیږي. تر څو چي موټر ته نمبر پلیټ او جوازسیر جوړیږي تر هغه وخته د ترانزټي نمبر پلیټ څخه استفاده کولای سي. دغه نمبر پلیټ تر ۱۰ یا ۲۰ ورځو پوري د اعتبار وړ دی.

زراعتي تراکتور، موټرسایکل، ریکشا او زرنج ته یو نمبر پلیټ ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو شمېر جزایي احکام

**شپږ شپیتمه ماده**

(1) که څوك د چلولو د جواز له درلودلونه پرته ماشین لرونکی نقلیه واسطه په عام واټ وچلوی له یوی میاشتی نه تر شپږ میاشتو پوری په حبس یا له زر افغانیو نه تر شپږ زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

(2) د نقلیه واسطی مالك یا متصرف ددی خبری په پوهیدلو سره سره چی چلوونکی د چلولو جواز نه لری او هغه ته د نقلیه واسطی د چلولو اجازه ورکړی تر دوه زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

**اوه شپیتمه ماده**

د الکهولی مشروباتو او یا مخدره موادو له استعمال نه د راولاړی شوی نشی په حالت کښی چلول جرم دی. مرتکب د نورو قوانینو د احکامو په پام کښی نیولو سره له شپږو میاشتو نه تر یوه کال پوری په حبس یا له شپږ زره افغانیو نه تر دولس زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

**اته شپیتمه ماده**

که چیری څوك د ترافیکی مقرراتو، اشاراتو، علامو او ترافیکی تأسیساتونه د سر غړونی په سبب په عام واټ باندی د ترافیکو په امنیت کښی خطر واچوی تر دری میاشتو پوری په حبس یا تر دری زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

**نهه شپیتمه ماده**

که څوك د واټ د ترافیك امنیت په عمدی ډول ګډوډ کړی چی د هغه په سبب اشخاصو ته ځانی او مالی زیان واوړی، د زیان په جبرانولو بر سیره د جزأ د قانون له حکمونو سره سم مجازات کیږی.

**اویایمه ماده**

که څوك عام واټ د ترافیکو د اداری د پخوانی اجازی له حصول نه پرته د تعمیراتی او نورو موادو د کښیښودلو په سبب بند، کنده یا د تیریدلونه وباسی تر دری میاشتو پوری په حبس یا تر دری زره افغانیو پوری په نغده جزأ محکومیږی.

**یو اویایمه ماده**

(1) که څوك د ترافیکو علامی، اشارات او تأسیسات په خپل سر په عام واټ باندی نصب او یا هغه له واټ نه لیری کړی او یایی لوری بدل کړی تر دری میاشتو پوری په حبس او یا تر دری زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

(2) که څوك د اعلان، تابلو او داسی نورو د نصبولو په واسطه ترافیکی علامی او اشارات پټ او یا ګډوډ کړی تر یوی میاشتی پوری په حبس او یا تر زرو افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

**دوه اویایمه ماده**

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیری د ښاروالیو، د واټ د ساختمانی او د سرکونو د ساتنې او څارنی د مؤسسو کارکوونکی د دغه قانون د اته دیرشمی مادی له احکامونه سرو غړوی، سرغړوونکی تر یوی میاشتې پوری په حبس یا تر دوه زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

**دری اویایمه ماده**

(1) که چیری د نقلیه واسطې چلوونکی داهمال،غفلت بی احتیاطی، د ترافیکی قانون، مقرراتو او یا لوایحونه د سر غړونی په سبب د دغه قانون د اوه ویشتمی مادی د دریمی فقری د مندرجې درنی ترافیکی پیښې مرتکب شی په هغه حبس چې له شپږو میاشتو نه لږ او له دری کلونو نه زیات نه وی محکومیږی.

(2) که چیری ارتکاب شوی عمل له هغو اصولو نه د غتې سرغړونی په سبب واقع شوی وی چې د فن او مسلك له مخې پری لازم وی، مرتکب په متوسط حبس چې له دوه کلونو نه لږ نه وی محکومیږی.

(3) که چیری ارتکاب شوی عمل د دغه قانون د اوه ویشتمی مادی د دوهمی فقری مندرجه متوسطه پیښه تثبیت شی، مرتکب د احوال سره سم تر یو کال پوری په حبس یا تر دولس زره افغانیو پوری نغدی جزأ یا په دواړو جزأگانو محکومیږی.

**څلور اویایمه ماده**


د دغه قانون د اوه ویشتمی مادی د لومړی فقری مندرجې کوچنی ترافیکی پیښی کښی چې د سپك ټپ یا تر دری زره افغانیو پوری د مالی زیان سبب شی او د پیښی شاملین د موضوع له تعقیب نه تیر شی او د زیان په جبران کولو موافق وی، د ترافیك څارندوی د سر غړوونکی مالی تنبیه ته اقدام کوی او موضوع ته خاتمه ورکوی.

**پنځه اویایمه ماده**

څوك چې د ترافیکی پیښی مرتکب شی او له ټپیانو سره له لازمی مرستی نه ځان وژغوری، د اصلی پیښی په جزأ بر سیره تر شپږو میاشتو پوری په حبس یا تر شپږ زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

**شپږ اویایمه ماده**

که څوك د ترافیکی درنی یا متوسطی پیښی مرتکب شی او د پیښی له ځای نه وتښتی د اجبار د حالت په پام کښی نیولو سره د اصلی پیښی په جزأ بر سیره له شپږو میاشتو نه تر یو کال پوری په حبس یا له شپږ زره افغانیو نه تر دولس زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.




## د چلولو جواز(لایسنس)

**یو ډول کتا بچه ده چي چلوونکي ته پر جاده باندي د چلولو اجازه ورکوي.**

**یا هغه ارزښت لرونکي سند ته ویل کیږي چي چلوونکي ته تر ۱۵ ورځني زده کړو عملي او نظري ازمویني وروسته د ترافیکو مدیریت له لوري ورکول کیږي.**

***په لایسنس کي د چلوونکي نوم، د ویني گروپ، مُهر او نقلیه وسیله ذکر کیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




*لایسنس یوازې هغه ولایت کې نوی کیدای سي چیري چې اخیستل سوی وي.

*لایسنس کاپي کول او ګرځول یې د اعتبار وړ نه دي، باید اصل ولري.

*د افغانستان لایسنس په 34 ولایاتو کې د اعتبار وړ دئ .

*هر لایسنس درې کاله وخت لري.

*په لایسنس کي یو ډول کارت دی چي کارت تخلف ورته ویل کیږي کله چي یو شخص ترافیکي تختي وکړي په همدغه کارت کي یې تختي لیکل کیږي که چیري یو شخص تر درو اضافه تختۍ وکړی د دوهم ځل لپاره به د لایسنس کورس تعقیبوي.



**د لایسنس اخیستو شرایط**

۱-افغان به وي. ۲- اتلس کلنۍ عمر ئې پوره کړی وي. ۳- معیوبیت ونه لري.

عموماً لایسنسونه په دوه ډوله دي: ملي او بین المللي.

په افغانستان کي لایسنسونه پر څلور ډوله دي.

۱ - جدید ۲- تجدید ۳- ارتقاء بالدرجه ۴- مثنی ۵- بین المللي د لایسنس ډولونه دي.

**۱ -جدید لایسنس** هغه کسانو ته ورکول کیږي، چي غواړي د لومړي ځل لپاره لایسنس واخلي .

**۲ -تجدید لایسنس** له دریو کالونو څخه وروسته کله چې جدید لایسنس نوی سي، دې ته تجدید سوی لایسنس وایي.

**۳ -مثنی لایسنس** کله چې لایسنس ورک یا تخریب سي نو دویم ځل اخیستو ته ئې مثنی لایسنس وایي. د اخیستلو پروخت ئې عملي او نظري امتحان اخیستل کیږي.

**۴ -ارتقا به درجه لایسنس** هغه لایسنس دئ چې د مهارت د زیاتیدو وروسته له یو کاله وروسته ورکول کیږي. یعنې کله چې یو کس یو ډول واسطه کې مهارت ولري او غواړي بل ډول واسطه وچلوي نو باید ارتقاع به درجه لایسنس لپاره د ترافیکو مدیریت ته ورسي. هغوی بیا رسمي اجراأت کوي.

د لایسنس اخیستو لپاره د اړتیا وړ شیان:

۱ -تذکره. ۲- د وینې د ګروپ یا صحی معاینات.- ۳- درې قطعې عکسونه .

**د لایسنس کټګوري**

A پنځمه: موټر سایکل، زرنج او...

Bڅلورمه: تیز رفتاره موټرونه لکه سراچه، کرولا او...

Cدریمه: لوی موټرونه چي وزن ئې له 3.5 ټن څخه زیات وي .

Dدویمه: بس موټرونه چې له 7 څوکیو زیاتې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Eلومړی: هغه موټر چې نور موټر کش کوي، یعنې لوی – لوی موټر چې نورو موټرونو سره د مرستې لپاره جوړ شوي دي.

*هر لایسنس یو د سرغړونې کارټ له ځانه سره لري. دا کارټ د پوره ارزښت لرونکی دئ. لایسنس له دې کارته پرته هیڅ دئ. دې کارټ کې د چلوونکي تیروتنې ثبتیږي. که تیروتنې له 3 زیاتې سي لایسنس ترې اخیستل کیږي.

**د ترافیکو خاصه وضعه**

*کله چې په جاده کي رش وي لاره بنده وي، پولیس ترافیک ولاړ وي شپیلکلان وهي وسایط یوې او بلې خواته پاسوي، ایشاره هم شنه وي خو بیا هم جادې ته مه داخلیږئ، ستاسې سترګې د اعتبار وړي دي کله چې لار ایله سول حرکت وکړئ.

## څراغونه (بتۍ)

*د موټر د مخ بتۍ، ژړې ایشارې، بریک بتۍ، د نمبرپلیټ بتۍ او د انعکاس ښښې په موټر کې قانوني څراغونه دي، ددې څخه بغیر نور څراغونه بسته کول غیري قانوني دي.

*ښکاري او ګازې څراغونه بسته کول غیري قانوني دی.

## سوارلۍ(سپاریان)

*کله چي موټر جوازسیر ورکول کیږي په جوازسیر کي د موټر د سوارلیو اندازه ټاکل سوې. مثلاً په سراچه کي د ډریور سره پنځه نفره اجازه سته، بس یا ۳۰۳ موټر ته د ۴۷ نفرو اجازه سته، تر دې اضافه سواریان پورته کول غیري قانوني کار دی.

*ځینو وسایطو ته بیا بغیر د چلوونکې څخه د بل نفر اجازه نسته لکه بایسکل او ټکټر...

**د سوارلي کیافه(شکل)**

*قانون چلوونکي ته وایي کله چي تاسې سواري پورته کوئ د هغه کیافې او شکل ته باید په دقت وګورئ، که مو چیري شک ورسیږي چي بد شخص دی مه یې پورته کوئ.

**د بارداره موټر د بار اندازه.**

*د بارداره موټر لپاره په جوازسیر کي د بار اندازه ټاکل سوې ده، د هغه اندازې څخه اضافه بار موټر ته اچول غیري قانوني کار دی.

*مثلاً په یو لارۍ موټر کي ۱۰ ټنه د بار جواز سته که تاسې تر دې اضافه ور واچوئ پولیس ټرافیک کولی سي چي تاسي تهدید، جرمانه او یا لایسنس درڅخه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* په لارۍ موټر کې د بار اچول یوازې د هغه تر باډیه پورې محدود دی ، که باره تر باډۍ یوې او بلې خواته تیر وي دا غیري قانوني دی. بغیر د هغه شرکتونو څخه چې هغه ددولت سره پروتوکول لري، د پروتوکول په اساس که بار د لارۍ تر باډۍ اضافه وي یو طرفه بل طرف او شاته دې یې سور ټاټ وځړوي.

## د کلینر مسوولیت

*عموماً په بس او یا لارۍ موټر کې د موټروان سره دوهم کس د کلینر په حیث ورسره وي، کلینر ته دموټروان په رقم خاص جواز ورکول کیږي، ۱۸ کاله عمر به لري د کورنۍ اجازه به لري، بیا نو کلینري کولی سي.

* کلینر که په بس موټر کې وي په سوارلیو باید وګرځي چې لاس ونه باسي او یا په بس کې بې ځایه ونه دریږي.

او که په لارۍ موټر کې وي باید پر بار وګرځي پر ټایرو او یا نورو پرزو وګرځي.

*موټروان باید دسوارلیو سره بانډار ونه کړي، په سګریټو ځان اخته نکړي او د چا په خوښه رفتار ونکړي قانوني باید مخته ولاړ سي.

## پیاده

پیاده شاملین: هغه اشخاص چی د نقلیه واسطو له استفادی نه پرته په عام واټ باندی حرکت کوی پیاده شاملین بلل کیږي.

*قانون پیاده شاملینو ته حق اولیت ورکړی، که هر وسایط والا د پیاده سره ټکر کوي قانون یې ملامتوي.

*هیڅ وخت پیاده په چا نه ملامتیږي، ځکه پیاده شاملینو ته کورس نسته، ټول وسایط چلوونکي د قانون تر چتر لاندي راځي . ځکه ټرافیکي اصول یوازي ددوی لپاره دي، هر وسایط چلوونکئ باید په ټرافیکي اصولو اګاه شخص وي.

*پیاده شاملیون ته لازمه ده چي پر پیاده روونو حرکت وکړي، او پیاده شاملین چي تر سړک اوړې درې طریقې لري.

۱ :طریقه یې داسې ده کله چي پیاده تر سړک اوړي چیري چي ټرافیک وي هلته به ټرافیک ته ناره کوي چي راسه ما تر سړک واړوه.

۲ :طریقه یې د پیاده رو لوحې دي کله چي هغه ولاړې وي پیاده شاملین حق لري چي تر سړک تیر سي.

۳ :طریقه د کوچنیانو ده کله تاسې خپل کوچنیان مکتب او یا بازار ته استوئ لارښوونه ورته وکړئ چي پر سړک اوړئ لاسونه یو له بل سره ونیسئ شاوخوا وګورئ بیا تیر سئ، که چیري یو وسایط پر تاسې راورسیږي وارخطا کېږئ مه ودرېږئ چي وسایط تیر سي بیا تاسې تېر سئ.

## پیاده رو د کاروبار لپاره ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

*پیاده رو د پیاده تگ لپاره دی، کواټ پر اینبودل، ترکاري باب پر خرڅول او یا ریړۍ پر درول غیري قانوني کاردی.

*ټول پیاده شاملین لکه کوچنیان، ښځې، ځوانان او سپین ږیري دي پر پیاده ولاړ سي.





## حیوانات جادې ته داخلول

*کله چي یو څوک حیوان جادې ته داخلوي قانون وایي پر داسې وخت باید داخل سي چي نور وسایط جادې ته نه وي داخل سوي.

*هغه حیوانات لکه پسونه، غوایان، اوښان او یا نور حیوانات چي کله گنج ته بیایاست او یا په ښار کي رمه تېروئ باید د ملا پر آذان جادې ته داخل سئ، پدغه وخت کي په جاده کي د وسایطو گڼه گونه نه وي.

*کله چي رمه جادې ته داخلیږي باید درې نفره ورسره وي یو په سر کي بل په مینځ کي بل په پای کي ترڅو رمه په ښه طریقه سره تر جادې تیره سي.

*که ناوخته سوی وو بیا دي نو خپل حیوانات پر فرعي سړکونو تر خپل هدفه ورسوي، که چیري چا د حیواناتو سره ظلم کوئ، پولیس ټرافیک حق لري چي ظلم کوونکئ تهدید او یا جریمه ورکړي.

# ترافیکي نښې(لوحې)

د ترافیکو په قانون کي اته ډوله ترافیکي نښې یا لوحې دي

۱ :اخطاریه لوحې

۲:حق اولیت لوحې

۳ :منع کوونکې لوحې

۴:هدایت ورکوونکي لوحې

۵:معلومات ورکوونکي لوحې

۶: تأسیسات

۷: برقي ایشارې(سیگنالونه)

۸: خط اندازی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی: اخطاریه(نښې) لوحې

هغه لوحې چې مثلث شکل لري او یا درې کونجه وي دې ته اخطاریه لوحې ویل کیږي.



عمومي خطر



څلور لارې (د راسته لاس څخه د حق اولیت مراعتول)



راسته لاس ته ګولایي



چپه لاس ته ګولایي



راسته لاسته ډبلې ګولایانې



چپه لاسته ډبلې ګولایانې



متقابل ترافیکي خطر



ددوو طرفو څخه د جادې کم عرضه کیدل




لس فیصده مخ کښته




لس فیصده مخ پورته



کمپرک(کښته پورته)



د ښویدو خطر



خامه سړک(د میده شګو د غورځېدو خطر



د غره څخه د ډبرې د رالویدو خطر



تونل



د باد لوری ټاکونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیاده رو دهلیز



د کوچنیانو پیاده دهلیز



ترساختماني کار لاندي جاده



د وحشي حیواناتو تیریدل



د اهلي حیواناتو تیریدل




سیند ته د ورلوېدو خطر



ترافیکي برقي ایشارې

## دوهم: د حق اولیت نښې(لوحې)

هغه نښې یا لوحې ته ویل کیږي چي د لومړیتوب حق په کښې مراعت کیږي.



عمومي جاده(حق اولیت د عومي جادې دی)



عمومي جاده ختمه سوه



حق اولیت د مخامخ عمومي جادې دی.




د راستې خوا فرعي سړک لمخي د مخامخ حق اولیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چپې خوا فرعي سړک لمخې د مخامخ حق اولیت



و ګوره او تیر سه.




درېدل او حق اولیت مراعتول



انتظار کول حق اولیت مخامخ ترافیک ته ورکول.



مقابل ترافیک باید انتظار وکړي

## دریم : منع کوونکي (نښې) لوحې

دا هغه لوحې یا نښې دي چې تاسې د یو کار څخه منع کوي.



یک طرفه جادې ته داخلیدل منع دي



د ټولو وسایطو پر مخ بنده جاده



د موټرانو ننوتل منع دي



د موټرسایلکل ننوتل منع دي



د بایسکل ننوتل منع دي



د ټکټیر(تراکتور) ننوتل منع دي



د آس د ګاډي ننوتل منع دي



د ټریلر(تیلر) ننوتل منع دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلاسي کراچۍ (ګاډۍ) ننوتل منع




هغه موټر ننوتل منع دی چې د بار وزن يې تر اووه ټنه اضافه وي.




د هغه موټر ننوتل منع دي چې مجموعه وزن يې تر اووه ټنه اضافه وي.




د هغه موټر ننوتل منع دي کوم چې پر اکسل يې وزن ۵ ټنه وي.




تر ۲,۵ متره او يا اضافه تر دې بر لوړونکئ موټرونه منع دي.




تر ۳,۵ متره جګ موټرونه ننوتل منع دي




تر ۱۰ متره اوږد موټرونه منع دي



راسته لاسته ګرځېدل (کاټيدل) منع دي



چپه لاسته ګرځيدل(کاټيدل) منع دي.



د U په شکل ګرځېدل منع دي



د ټولو وسایطو لپاره سبقت منع دی.



سبقت کولی سي



د غټ موټر سبقت منع دی



غټ موټر سبقت کولی سي




تر 50 اضافه سرعت منع دی




تر 50 اضافه سرعت کولی سئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هارن وهل منع دی.



توقف منع دی




پارکینګ کول منع دي.



پارکینګ کولی سي




تر ټاکلی وخته پارکینګ نسئ کولای



د پارکینګ ټاکلی وخت ختم سو




د گمرک محل(توقف)




حق العبور (توقف)

## څلورم: هدایت ورکوونکې (نښې) لوحې (امریه)

دا هغه لوحې دي چې تاسې ته هدایت او امر کوي.



مخامخ لور ته حرکت



راسته طرفته حرکت



چپه طرفته حرکت



راسته طرفته ګرځیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چپه طرفته گرځېدل



مخامخ او راسته طرفته حرکت



مخامخ او چپه طرفته حرکت



جاده راسته او چپه طرفته گرځي



د راستې خوا څخه واوړئ



د چپې خوا څخه واوړئ



ترافيکي څرخ يعني دايروي چوک



د بايسکل سړک



پياده سړک



ځنځير لرونکي موټر بايد پر ولاړ سی.




تر ټولو د کم سرعت سيمه




د کم سرعته سيمي ختميدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم: معلومات ورکوونکي (ښيي) لوحې.

دا هغه لوحې دي چې تاسې ته معلومات درکوي، کله چې تاسې یو ښار ته داخلیږئ او تاسو ددغه لوحو سره بلد یاست بیا نو ستاسې ښه لارښود کېدای سي.


د تیلو پمپ


ورکشاپ


د ټلیفون کولو غرفه


مسافرخانه



رستورانټ


سره میاشت


روغتون


د استراحت محل


تفریګاه( پارک)


د بس تم ځای



د ټکسي تم ځای ځای




معلوماتي غرفه



پارکینګ


د پیاده رو دهلیز


هوایي پُل یا تر ځمکې لاندې پیاده رو.


یکطرفه جادې ته د ننوتلو ځای


د یکطرفه جادې شروع.


جاده ختمه ده.


راسته طرفه د خط السیر تنظیم.


د خط السیر تنظیم کول مخامخ لور ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library




مختلفو طرفو ته د خط السير تنظيم.




د ښاري حدودو د شروع کيدو لوحه




د ښاري حدودو د ختم لوحه




د پام وړ ځايونو په اړه معلوماتي لوحه.




د لويو ښارو د ليري والي او په کيلومتر داندازې ښوولو لوحه.




د ولايتونو د ښارونو په اړه معلوماتي لوحه




د ښارونو او ولايتونو په اړه معلوماتي لوحه .




د ولايتونو د مسير د معلوماتي لوحه.





په داخل د ښار او ولاياتو کي معلوماتي لوحه




د جادي اندازه والي





د جادي نمبر





د ښاري واټونو د معلومولو لوحه




په داخل د ښار کي د محلونو د ښوولو لوحه .




د ولايتونو او ښارونو د مسير معلوماتي لوحه




د ولايتونو او ښارونو د مسير معلوماتي لوحه




ښه داخل د ښار کي د غټو محلونو دښودلو لوحه.




ترافيكي انحراف.




ترافيكي انحراف.




د ولاياتو په سطحه انحراف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم: تاسیسات او یا ترافیکي جزیرې.

دا لوحې د لرگې او یا چادر څخه جوړې دي، پر چوکو ولاړې وي د ویکتور لوری چې هر طرف ته وي تاسې ته هدایت کوي چې هماغه طرفته ولاړ سئ.



راسته طرفته ولاړ سه




چپه طرفته ولاړ سه



چپه او راسته طرفته ولاړ سه



دوو ښاخونو ته تلل



مخروطه




د ترمیم کاری سیاره لوحه




انعکاس کوونکې اله

## اووم: برقي ایشارې(سگنالونه)


هغه ایشارې دي چې د عامه نظم د تنظیم لپاره پر چوکو او جادو لگول سوي وي.



ودریږه




اماده سه




حرکت

## اتم: خط اندازي

هغه سپین یا ژړ خطونه چې د سړک پر سر رسم سوي وي خط اندازي بلل کیږي.



مستقیم خط.




دوه مستقیم خطونه.




مات(قاطع) خطونه



مستقیم او مات قاطع خطونه.



په چهاراهي یا څلور لارې کې په خط اندازي سره حدود ښودل سوی.



پیاده رو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډ ژوند لیک

زه سیف الله بسمل د کندهار ولایت د پنځمې ناحیې اوسیدونکی په ۱۳۷۴ هـ ش کال کې زېږدلی پلرنی ټاټوبی مې کندهار ولایت دامان ولسوالي ده.



تر دوولسم ټولګی پورې مې زده کړې په میرویس خان نیکه لېسه کې کړې تر فراغت وروسته د کانکور په امتحان کې کندهار پوهنتون شرعیاتو پوهنځی ته بریالی سوم په ۱۳۹۹هـ ش کال کې مې د همدې پوهنځی څخه د فراغت سند تر لاسه کړ.

په فرهنګي اړخ کې مې بېلابېلې لیکنې کړې، مختلفو ورځپاڼو او سایټو نشر کړې. همدغه شان (د شخصیت جوړوونې هنداره)، (اسلام او غربي ایډیالوژی) تر عنون لاندې هم دوه ناچاپه کتابونه لرم.

کله چې مې په ترافیکو کې دنده پیل کړه د تعلیم او تربیې په بخش مې یوه لویه غوښتنه او نیمګړتیا محسوس کړه، هغه دا چې په پښتوکې په خُلص شکل زموږ د زده کوونکو او موټر چلوونکو لپاره د دوی په ژبه او لهجه داسې ترافیکي درسونه او قوانین موجود نه وه چې هم دې د لایسنس د درس زده کوونکي درس په کښې ولولي او هم دې یې نور چلوونکې مطالعه کړي. که وه حجم به یې ډېر وو او یا به ډېر لنډ وه یعني یوازې به ترافیکي نښې وې. دغې نیمګړتیا ته په کتو مې هڅه وکړه چې د مختلفو منابعو څخه مواد راټول کړم په مختسر شکل یې په عامیانه پښتو یې ولیکم او تر ګرانو هیوادوالو او په خاص ډول د وسایطو تر چلوونکو یې ورسوم. تر څو د هیواد د ټرافیکي اصولو سره اشنا او د چلولو په وخت کې یې مراعات کړي په دغه شکل یې هم یې ځان او هم یې ټولنې ته ګټه ورسیږي.

ګرانه لوستونکیه!

بشر د نیمګړتیاوو څخه ندی خالي، که په نوموړې چپتر (کتاب) کې کومه غلطي او اشتباه سوې وي هیله ده ومې بخښې او تر لوستلو وروسته یې راپام کړې تر څو اصلاح یې کړم.

په مینه

سیف الله بسمل

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**